# د حضرت عبدیاه نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

د حضرت عبدیاه نبوتی کِتاب هغه خلقو له سخت خبردارے ورکوی د چا چې دا خیال وی چې هغوئ خُدائ پاک له دوکه ورکولے شی. هیڅوک هم د خُدائ پاک د عدالت نه تښتېدلے نۀ شی. څنګه چې پخوا خُدائ پاک د بنی اِسرائیلو محافظ وو دغسې به هغه نن هم د مؤمنانو دفاع کوی. څوک هم چې د خُدائ پاک خلقو ته نقصان رسوی نو یقیناً خُدائ پاک به هغوئ له سزا ورکوی. عبدیاه په خپل کِتاب کښې د دې وضاحت هم کوی چې غرور کول او د خُدائ پاک نه علاوه په بل څۀ بهروسه کول بربادی ده. او دا په قومونو او په هر چا باندې یو شان لاګو کیږی. کېدے شی چې په دې ژوند کښې مغرورانو ته سزا مِلاو نۀ شی خو د مرګ نه پس به ورته یقیناً چې سزا ملاویږی. حضرت عبدیاه د زړې لوظ نامې دا وړوکے کِتاب په هغه وخت کښې ولیکلو کله چې د بابل فوجیانو یروشلم تازه تازه برباد کړے وو. حضرت عبدیاه دا پېشګوئې وکړه چې ادوم د خُدائ پاک خلقو سره کوم سلوک کړے دے د هغې بدله به ورته مِلاو شی او خُدائ پاک به هغه خلق چې مصیبت کښې راګېر دی هغه به بحال کړی ځکه چې دا د هغۀ لوظ دے او خپلو خلقو سره یې مینه ده. د حفظ کولو دپاره ۱:۱۵ آیت ”د مالِک خُدائ د قیامت ورځ رانزدې ده، د ټولو قومونو دپاره. څنګه چې تاسو کړی دی، نو هم داسې به تاسو سره هم وشی. ستاسو عملونه به واپس ستاسو په خپل سر راشی.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مالِک خُدائ به د ادوم د خلقو عدالت کوی

۱ دا د عبدیاه رویا ده. دا هغه څۀ دی چې مالِک خُدائ يې د ادوم د قوم په
حقله فرمائی، مونږ د مالِک خُدائ نه يو پيغام واوريدو، هغۀ يو پيغمبر قومونو ته
ولېږلو چې ورته وفرمائی، ”پاڅئ، او راځئ چې په ادوم حمله وکړُو.“ ۲ اے
ادومه گوره، زۀ به تا په قومونو کښې وړوکے کړم، تۀ به ډېر سپک شې. ۳ تۀ
خپل غرور دوکه کړے يې، تۀ چې د غرونو په غارونو کښې اوسېږې، او په اوچتو
ځايونو کښې خپل کور جوړوې، تۀ چې د خپل ځان سره وائې چې، ”څوک ما
لاندې زمکې ته راوستلے شی؟“ ۴ خو تر دې کۀ تاسو د باز په شان اوچت هم
والوځئ، او خپله جاله د ستورو سره جوړه کړئ، نو زۀ به هلته نه هم تاسو لاندې
راولم، مالِک خُدائ فرمائی. ۵ کۀ غلۀ د شپې راشی او تا لوټ کړی، نو هغوئ
به تا نه دومره څۀ پټ کړی څومره چې غواړی. کله چې خلق انگور راټولوی نو
څۀ نه څۀ ترې نه پاتې شی. خو ستاسو دشمن به تاسو مکمل جارُو کړی. ۶ د
ادوم خلق، د عِيسو اولاد به په پوره توگه لوټ کړے شی، او د هغوئ پټې خزانې
به يوړے شی. ۷ تر دې چې ستا ټول اِتحاديان به هم تا ستا د خپل مُلک نه
وزغلوی، ستا خپل ملگری به تا دوکه کړی او په تا به زورَور شی. ستا اعتباری
دوستان به تا ته دام خور کړی، خو تا ته به دا معلوم نۀ وی. ۸ مالِک خُدائ
فرمائی، په هغه ورځ به د ادوم په ټوله علاقه کښې يو هوښيار کس هم باقی پاتې نۀ
شی، ځکه چې د ادوم په غرونو به زۀ هغه هر يو کس تباه کړم څوک چې عقل
لری. ۹ اے تيمانه، ستا جنگيالی به ويرېږی، او د ادوم په غرونو کښې هر يو
کس به حلال کړے شی.

## ادوميانو ته د سزا مِلاويدو وجه

۱۰ تا خپل ورور يعقوب سره ظلم کړے دے نو په دې وجه به تۀ په شرمونو
وشرمېږې او د هميشه دپاره به تباه او برباد شې. ۱۱ په هغه ورځ تۀ لرې ولاړ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي کله چې غېر مُلکيان د هغهٔ دروازو ته ورننوتل او د هغهٔ نه يې مال دولت
يوړلو، او د يروشلم د تقسيمولو دپاره يې پچه واچوله. نو تا په هيڅ نهٔ کولو داسې
رويه خپله کړې وه لکه چې تهٔ هم د بنى اِسرائيلو دشمن يې. ﴿١٢﴾ تا له د خپل
ورور د بد قسمتۍ په ورځ خوشحالېدل نهٔ دى پکار، او نهٔ درله د يهوداه د خلقو د
تباهۍ په ورځ خوشحالېدل پکار دى، او نهٔ درله د هغوئ د تکليف په ورځ لافې
کول په کار دى. ﴿١٣﴾ تا له نهٔ وو په کار چې زما د خلقو دروازو ته ننوتلے وې د
هغوئ د تباهۍ په ورځ، او نهٔ درله په کار وو چې تهٔ د هغوئ د تباهۍ په ورځ د
هغوئ په مصيبت باندې خوشحاله شوے وې، او نهٔ د هغوئ د تباهۍ په ورځ
هغوئ لوټ کړې. ﴿١٤﴾ تا له نهٔ وو په کار چې په چوکونو کښې ولاړ وې او هغوئ
دې وژل ځوک چې تښتېدل. تا له نهٔ وو پکار چې هغه بچ شوى خلق دې نيول او
دشمن ته دې حواله کول، په کومه ورځ چې هغوئ په مصيبت کښې وُو. ﴿١٥﴾ د
مالِک خُدائ د قيامت ورځ رانزدې ده، د ټولو قومونو دپاره. څنګه چې تاسو کړې
دى، نو هم داسې به تاسو سره هم وشى. ستاسو عملونه به واپس ستاسو په خپل
سر راشى. ﴿١٦﴾ اول تاسو زما په مقدس غرهٔ زما د غضب جام وڅښلو، خو
اوس به يې نور ټول قومونه څښى. بلکې هغوئ به دا په څښلو څښلو خالى کړى،
او هغوئ به دې آخرى قطرې هم څټى. بيا به د هغوئ نام و نشان باقى پاتې نهٔ
شى، داسې به ښکارى لکه هغوئ چې بلکل وُو نه.

## د بنى اِسرائيلو فتح

﴿١٧﴾ خو د صيون غر به د هغوئ دپاره د پناه ځائ شى ځوک چې تښتى، دا به
مقدس وى. او د يعقوب اولاد به دا ځائ د خپل ميراث په توګه قبضه کړى. ﴿١٨﴾
د يعقوب اولاد به لکه د اور په شان وى او د يوسف اولاد به لکه لمبه وى، او ادوم
به لکه د بوسو په پوره توګه وسوزوى. د ادوم په اولاد کښې به ځوک هم ژوندى
پاتې نهٔ شى. مالِک خُدائ دا فرمائيلى دى. ﴿١٩﴾ د نجب خلق به د ادوم غرونه
قبضه کړى، او د ښکته علاقو خلق به د فلستيه مُلک قبضه کړى، هغوئ به د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِفرائیم او سامریه علاقې قبضه کړی، او د بنیامین خلق به جِلعاد قبضه کړی.
۲۰ د بنی اِسرائیلو جلاوطن کړے شوی خلق چې په کنعان کښې دی به د
صارفت پورې مُلک قبضه کړی، د یروشلم جلاوطن کړے شوی څوک چې په
سفاراد کښې دی هغوئ به د نجب په ښارونو قبضه وکړی. ۲۱ خلاصون
ورکونکی به د صیون غرۀ ته بره وخېژی چې د ادوم په غرونو باندې حکومت
وکړی. او مالِک خُدائ به پخپله بادشاه وی.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.